مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمدسمیع صادق ۲۰۲۶/۰۴/۲۴

# لرغوني آثار

## قصه په سلو ټکو کې

دواړه د لرغونو اثارو په دوکان کې ګرځېدل.

هغې په لاس کې یوه زړه چیني چاینکه نیولې وه. د چاینکې د منځ پر درز ئې ګوته ورو ورو کشوله، لکه یوه زړه خاطره چې لولي. ده بیا یو زوړ څراغ، چې رڼا ئې کلونه مخکې مړه سوې وه، اړاوه راړاوه.

هغې وویل:

«خلک ډېر ښه شیان ډېر ژر غورځوي.»

ده سر وخوځاوه. ګوتې د ګوتمیو له ځلا بې برخې وې.

د زړو ساعتونو په ټک ټوک کې ئې شناسایي په مینه واوښته.

زړونه د لرغونو اثارو په څېر وي، ارزښت ئې د زخمونو او کلونو له امله کمېږي نه، ډېرېږي!

محمدسمیع صادق


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ